بې‌شکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغو ښځو نه بې‌زاري ښکاره کړې ده چې د مصيبت پر مهال چغې وهي، سرونه خريي او خپل وېښتان باسي او يا ګربوانونه څيرې کوي

د ابي برده بن ابي موسى رضى الله عنه څخه روايت دى وايي چې: پر ابو موسى سخت دردونه راغلل، تر دې چې بې‌هوښه شو، او سر يې د خپلې کورنۍ د يوې مېرمنې په غېږ کې و، او (د بې هوښۍ له امله يې) نه شو کولى چې څه ورته ووايي، خو کله چې په هوښ راغى ويې ويل: زه له هر هغه چا څخه بې‌زار يم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تر بې‌زاره شوى دى بې‌شکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغو ښځو نه بې‌زاري ښکاره کړې ده چې د مصيبت پر مهال چغې وهي، سرونه خريي او خپل وېښتان باسي او يا ګربوانونه څيرې کوي.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

ابو برده رضي الله عنه کيسه کوي چې پلار يې، ابو موسى الاشعري رضي الله عنه، سخت ناروغ شو تر دې چې بې‌هوښه شو، نو سر يې د خپلې کورنۍ د يوې مېرمنې په غېږ کې کېښود، هغې چيغه کړه او ژړا يې پيل کړه، خو هغه د خپلې بې‌هوښۍ له امله ونه توانېد چې هغې ته څه ووايي. خو کله چې راويښ شو ويې ويل: زه له هغه چانه بېزار يم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تر بې زاره شوى دى، او يقينا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هر هغه چا څخه بېزار دى چې هغه: (صالقه) وي: هغه چې د مصيبت پر مهال چغې وهي. (الحالقه) وي: هغه چې د مصيبت پر مهال خپل سر خريي (له ځانه وېښتان شکوي). (الشاقة) وي: هغه چې د مصيبت پر مهال خپلې جامې (ګربوان) څيرې کوي. ځکه دا کارونه د جاهليت له کړنو څخه دي، بلکې د مصيبت پر مهال په صبر باندې امر شوى او دا چې له الله تعالى څخه يې اجر وغوښتل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4849